اوس مشرانو، ماشومانو او کوچنیانو لپاره موجود دی

# په حقایقو پوه شئ.

## بوسټر (پیاوړي کوونکي) ډوزونه

## بوسټر(پیاوړی کوونکي) ډوزونه خوندي دي

د کوویډ-19 تقویه کوونکي د اصلي واکسینونو په څیر مواد لري، کوم چې د سلګونو میلیونو خلکو لپاره خوندي ثابت شوي دي. لږې ضمني اغیزې عادي دي. جدي ضمني اغیزې خورا نادرې دي.

## د کوویډ-19 واکسینونه اغېزناک دي

کوویډ-19 واکسین د سختې ناروغۍ، روغتون کې د بستر کېدو او مړینې پر وړاندې ساتنه کوي. د کوویډ-19 واکسینو په اړه اپډېټ اوسېدل مهم دي، په دې توګه مو د خوندیتوب خورا زیاتېږي.

## بوسټر(پیاوړی کوونکي) ډوزونه له تاسو سره په خوندي پاتې کیدو کې مرسته کوي



بوسټر (پیاوړي کوونکي) هغه دوزونه دي چې تاسو یې د بشپړ واکسین کولو وروسته ترلاسه کوئ تر څو تاسو د کوویډ-19 په وړاندې خوندي پاتې شئ.

بوسټر(پیاوړي کوونکي) ډوزونه د ډیری واکسینونو لپاره عام دي. د بېلګې په توګه، د تیتانوس واکسین د لویانو لپاره په هرو 10 کلونو کې بوسټر (پیاوړي کوونکي) ته اړتیا لري.

ساینسپوهان دا موندلي چې د وخت په تېرېدو سره د ځینو واکسینونو په وسیله د یو کس ساتنه راکمېږي، او یو تقویه کوونکی له دوی سره مرسته کوي چې تر څو خوندی پاتې شي. د کوویډ-19 بوسټر (پیاوړی کوونکي) ډوزونه په ورته ډول کار کوي.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus

23 Mar 2023



## ځوک کولای شي بوسټر (پیاوړی کوونکي) دوز ترلاسه کړي

بوسټر (پیاوړي کوونکي) دوزونه هر چا ته اضافي خوندیتوب ورکوي، مګر دا په ځانګړې توګه د هغو خلکو لپاره مهم دي چې روغتیایي شرایط، دندې، یا د ژوند شرایط لري په دې معنی چې دوی په کوویډ-19 د اخته کیدو یا جدي ناروغ کیدو لوړ خطر لري.

پرته له دې چې ستاسې د کډوالۍ حالت په پام کې ونیول شي، او یا تاسې طبی بیمه او یا کارت ولرئ، بوسټر (پیاوړي کوونکي) د ټولو خلکو لپاره وړیا دي.

## حتی ډېر خوندیتوب ترلاسه کړئ



له کوویډ-19 څخه د خپلې کورنۍ، ټولنې او ځان د ساتنې غوره لاره دا ده چې د خپلو واکسینونو په اړه اپډېټ اوسئ. د اپډېټ کېدو معنی دا ده چې د دوو شاټو واکسینو دواړه دوزونه وکړئ او بیا که اړتیا وه بوسټر (پیاوړي کوونکي) شاټ هم وکړئ.

ماسک اغوستلو ته دوام ورکړئ، ټولنیز واټن مراعات کړئ، او کله چې تاسو ناروغ یاست په کور کې پاتې شئ تر څو هر څوک خوندي وساتئ.

# د ځان ساتنه وکړئ. د خپلې ټولنې ساتنه وکړئ. واکسین ترلاسه کړئ.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus